# يقينا چې الله جل جلاله تاسو له دې څخه منع کوي چې په خپلو پلرونو قسم وخورئ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «يقينا چې الله جل جلاله تاسو له دې څخه منع کوي چې په خپلو پلرونو قسم وخورئ» عمر رضي الله عنه وويل: په الله جل جلاله مې دې قسم وي چې ما (دا ډول)قسم ندی خوړلی کله مې چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي، نه په قصدي توګه او نه دا چې د بل چا څخه حکايت وکړم.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالى په پلرونو له قسم خوړلو څخه منع فرمايلي ده، نو څوک چې قسم کول غواړي يوازې په الله جل جلاله دې قسم وکړي، او په بل چا دې قسم نه کوي. بيا عمر بن خطاب رضي الله عنه يادونه وکړه چې هغه په (غير الله) قسم ندی کړی، له کومې ورځې نه يې چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې منع يې تري کړې ده، نه يې په قصدي توګه دا کار کړی او نه يې د بل چا په اړه حکايت کړی دی چې له الله پرته يې په بل څه قسم کړی وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2945